ورځپاڼه
# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
سه‌شنبه د ذوالقعدة الحرام ۲۴ مه ۱۴۴۴ ق کال | د غبرګولې ۲۳ مه ۱۴۰۲ ل کال | د جون۱۳ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۶۰ مه | پرله‌پسې ګڼه ۱۵۰ مه ،اتمه‌دوره

## اسلامي امارت په سرحدونو کې افغانانو ته آسانتیاوې برابروي

د ریاست الوزراء کفیل او سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر ورمه ورځ د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت مرستیال حاجي عبدالخالق عابد سره په کتنه کې وویل، چې اسلامي امارت هڅه کوي په سرحدونو کې افغانانو ته ټولې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.د ریاست الوزراء مطبوعاتي دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د یادې کتنې پیل کې عبدالخالق عابد د یاد وزارت د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه د ریاست الوزراء کفیل او سیاسي مرستیال ته معلومات ورکړل.نوموړي وویل: یاد وزارت د افغانستان مختلفو قومونو سره همغږي رامنځته کړې، ګڼې قومي شخړې او دښمنۍ د ولسي او قومي جرګو له لارې حل شوې او د سرحدي سیمو د اوسېدونکو د ستونزو د حل لپاره یې هڅې پیل کړې دي. مولوي عبدالکبیر وویل: د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د افغانستان له مهمو وزارتونو څخه دی، چې ولسونه او قومونه پرې راټول دي.نوموړي زیاته کړه: اسلامي امارت هڅه کوي په سرحدونو کې افغانانو ته ټولې لازمي اسانتیاوې برابرې کړي. د ریاست الوزراء کفیل او سیاسي مرستیال نوموړي ته د چارو د لا ښه والي په موخه لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.

## اوچا:
## په افغانستان کې سرتاسري امنیت او په چارو کې روڼتیا راغلې



د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر اوچا له مرستیال محمد زید خاطر او مل پلاوي سره کتلي دي. دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په دې کتنه کې د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر محمد زید خاطر او مل پلاوي ته د کانونو د اقتصادي ودې او پراختیا، په چارو کې د روڼتیا او په ځانګړې ډول د هیواد د سرتاسري امنیت په اړه خبرې وکړې. په دې لیدنه کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفترمرستیال ویلي، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې سرتاسري امنیت او په چارو کې روڼتیا راغلې ده. د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست له افغانستان سره د ملګرو ملتونو د مرستو او همکاریو قدرداني کړې او پر دوه اړخیزو همکاریو یې ټینګار کړی دی.

## خلیفه سراج الدین حقاني :
## هیچا ته د زورواکۍ اجازه نه ورکوو

د کورنیو چارو وزارت سرپرست خلیفه سراج الدین حقاني سرپل ولایت ته د سفر په ترڅ کې سیمه ییزو چارواکو، دیني عالمانو، قومي مشرانو او د خلکو استازو په غونډه کې ګډون او وینا وکړه.د یادې غونډې په پیل کې د سرپل مرستیال والي محمد نادر حقجو د خلیفه سراج الدین حقاني د سفر له امله مننه وکړه او سرپل ته ورتګ او هلته یې له خلکو سره لیدل د امنیتي وضعیت د ډاډمنتیا قوي دلیل وباله.ورته مهال خلیفه سراج الدین حقاني وویل: (( بهرنیانو ملي وحدت ته زیان ورساوه او بې اعتمادي یې جوړه کړه؛ خو زموږ د ولس د ملي عزم په نتیجه کې د وخت واکمنې امپراتورۍ او د نورو یرغلګرو هېوادونو لښکرو ماتې وخوړه.))حقاني زیاته کړه، چې زموږ ترمنځ نفرت د دښمنانو پاشلي زهر دي او موږ بهرنیانو د دې



لپاره پاشلي وو، ترڅو اشغال یې دوام ومومي، خو دوی لاړل، آزادي راغله او شریعت نافذ شو.ده وویل، چې په اسلام کې تعصب او جلاوالي حرام دی، موږ باید هغه وحدت ولرو، چې خپل مبارک دین راښودلی دی.د کورنیو چارو وزارت سرپرست دغه راز وویل: (( هغوی چې له پردیو سره یو ځای د خپلو افغانانو په کورونو ورننوتل، وطن او آزادي یې معامله کړه، هغوی سره یو ځای لاړل، ...۵مخ

## په تېره میاشت کې ۳۳۸ ترافیکي پېښې شوې دي

د افغانستان د ترافیکو د عمومي ریاست مسئولین وايي: په تېره یوه میاشت کې د ټول هیواد په کچه ۳۳۸ ترافیکي پېښې شوې دي. د ترافیکو د عمومي ریاست د پلان او احصایې مدیر عبدالودود خیرخواه رسنیو ته ویلي: ((په تېر یوه میاشت کې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې ۳۳۸ ترافیکي پېښې ثبت شوې چې ۱۴۳ یې مرګوني او ۱۸۲ پېښو کې یوازې خلک ټپیان شوي او د دې تر څنګ په ۱۳ پېښو کې خلکو ته مالي زیانونه اوښتي دي.))د نوموړي په وینا: د ترافیکو عمومي ریاست تل هڅه کړې ،چې په هیواد کې د ترافیکي پېښو ګراف را ټیټ کړي، نو په همدې هدف یاد ریاست هره میاشت عملیاتي پلانونه جوړوي او د هیواد ټولو ترافیکي ادارو



ته یې د تطبیق په خاطرسپاري، چې د ترافیکي پېښو مخنیوي وشي.د خیرخواه په خبره، د پېښو یو عمده علت د موټرچلوونکو له خوا په لویو لارو کې د ترافیکي نښو نه مراعاتول او زیات سرعت دی، خو دا چې ترافیکي پېښې په دې وروستیو کې ولې ډېرې شوې؟ د لویو لارو له یو شمېر موټر چلوونکو او مسافرو د علت پوښتنه کړې ده.دوی: د ترافیکي پېښو د ډېرېدو عمده علت د لویو لارو خرابوالی، د چپه لاس موټرونه او د غیر مسلکي ډریورانو شتون ګڼي.د کابل - هرات موټر چلوونکي محمد غوث وايي: د لارې پر خرابوالي سربېره د ترافیکي نښو نشتون هم د ترافیکي پېښو د ډېرېدو سبب شوی دی.((ډېر د چپه لاس موټرونه په لویو لارو چلېږي چې د ټکر سبب کېږي او سړکونه هم خراب دي، او کنترول نشته. غوښتنه مو دا ده چې موږ ته لومړی د لارو ستونزې حل کړي. د سرعت ...۵مخ

## نورستان کې سېلابونو خلکو ته درانه مالي زیانـــونه اړولي

د نورستان د طبیعي پېښو په وړاندې د مبارزې ریاست مسئولین وايي، چې د دغه ولایت په منډول او دواب ولسوالیو کې د سېلابونو د راوتلو له امله ځايي خلکو ته درانه مالي زیانونه اوښتي دي. د یاد ولایت د پېښو پر وړاندې د مبارزې رئیس وايي ، چې د دغه ولایت په منډول او دواب ولسوالیو کې سېلابونو ځايي خلکو ته مالي زیانونه اړولي دي. نوموړي د پوره چمتوالي ډاډ ورکړ او وايي، چې سیمې ته یې خپل ټیمونه د خلکو د مرستو رسولو په موخه لېږلي دي.

## برنامه جهانی غذا در تلاش پایان کار کودکان درفغانستان است

برنامه جهانی غذا، به مناسب فرارسیدن روز جهانی مبارزه با کار کودکان می‌گوید که، این نهاد از راه‌های مختلف تلاش می‌کند تا به کار کودکان در کشور نقطه پایان بگذارد.برنامه جهانی غذا دیروز در توییتی نوشته است که این نهاد در حال افزایش آگاهی در مورد پایان کار کودکان در افغانستان و جهان است. این نهاد افزوده است: (( ما در حال افزایش آگاهی و اقدام برای پایان کار کودکان در همه اشکال آن



در افغانستان و فراتر از آن، در سراسر جهان هستیم.))دیروز (دوشنبه، ۱۲ جون) روز جهانی مبارزه با کار کودکان بود. براساس داده‌های نهادهای جهانی مدافع حقوق کودکان، در سال‌های گذشته ۳,۷ میلیون کودک کارگر در افغانستان وجود دارد که ۲,۱ میلیون...ص۵

## شاروالی کابل:
## از فروش مواشی در اماکن عمومی جلوگیری خواهد شد

فروش مواشی در اماکن عمومی و دیگر ساحات شهری، به‌خصوص در ایام عید قربان همواره برای شهرنشینان مشکل ساز شده است.اما مسئولین در شاروالی کابل می‌گویند که، این اداره در آستانه فرا رسیدن عید قربان، جاهایی را در شهر کابل، برای فروش مواشی مشخص خواهد ساخت.نعمت‌الله بارکزی، نماینده شاروالی کابل می‌گوید: (( شاروالی کابل به‌خاطر خرید و فروش مواشی در شهر کابل، ساحاتی را مشخص می‌کند و هیچ کسی حق ندارد که در سایر ساحات چنین کاری را انجام دهد. هدف از این کار جلوگیری از بی نظمی و تخریب زیر بناهای سرسبزی شهر می باشد.))بارکزی می‌افزاید: در ساحات مشخص شده که تا چند روز دیگر لیست آن به رسانه‌ها داده خواهد شد، داکتران موظف



خواهند بود تا تمام مواشی را از دید صحی در زمان فروش معاینه کنند.)) با این حال مسئولین اداره محیط زیست از این اقدام شاروالی کابل استقبال می‌کنند. سخی سخا، سخنگوی این اداره می‌گوید: ((نبود محل مشخص برای فروش مواشی باعث می‌شود تا فضای سبز شهری تخریب شود و آلودگی هوا بیشتر گردد.)) باشندگان شهر کابل نیز خواهان تعیین محل مشخصی ص۵

## هند له افغانستان سره د ۲۰ زره ټنه غنمو مرسته کوي

هند په پام کې لري چې د چابهار بندر له لارې ۲۰ زره ټنه نور غنم هم افغانستان ته را ولېږدوي. ټایمز آف انډیا خبري آژانس راپور ورکړی، چې د پاکستان له لارې افغانستان ته د ۴۰ زره ټنه غنو له لېږلو وروسته به د هند حکومت د ایران د چابهار بندر له لارې افغانستان ته ۲۰ زره ټنه نور غنم هم ورکړي. تمه کېږي، چې په لومړۍ جوپه کې به څه باندې ۲۵۰۰ ټنه غنم روانه اوونۍ د چابهار بندر له لارې هرات ته راورسېږي. د یادونې وړ ده، چې دا په روان کال کې د هند له خوا افغانستان ته د خوراکي توکو لومړۍ جوپه ده.

## د برېتانیا حکومت له هوټلونو څخه مېشت افغان کډوال باسي

برېتانوی ګارډین ورځپاڼې په یوه راپور کې لیکلي ،چې د برېتانیا د صدراعظم په دفتر کې یوې غونډې ته د کورنیو چارو وزارت چارواکو خبرداری ورکړی، چې په ۲۰۲۱ م کال په ورغلیو کډوالو کې ۸۰۰۰ افغانان له بې کوره کېدو سره مخ دي. دغه افغانان په افغانستان کې د سلامي امارت له بیاواکمنېدو وروسته برېتانیا ته انتقال شوي او په هوټلونو کې مېشت دي. د دغو افغان کډوالو برخلیک څرګند نه دی او معلومه نه ده ،چې دوی له هوټلونو څخه له وتلو وروسته چېرې مېشت کېږي. د لندن دې ووځي او په خپله دې د استوګنې بندوبست وکړي.



په هوټلو کې مېشت افغان کډوال وايي: دوی ته حکومت امر کړی چې له هوټلونو دغه کډوال زیاتوي ،چې که په برېتانیا کې ضامن ونه لري نو کور په کرایه نشي نیولی.




# ترافیکي پېښې څرنگه را کمولی شو؟!

پـر تعلیمـي، اقتصـادي او روغتیایي سـتونزو سربېره افغـان ملـت لـه ترافیکـي پېښـو هـم ډېـر رنځېږي او پـه تېـرو شـلو کلونـو کې چـې دلته اشـغالگر د بیا رغونـې او پرمختگ تر شعار لاندې مېشـت وو، د افغان ملت اسـاسي سـتونزو ته هېـڅ راز پاملرنه، نه ده شوې.د افغانسـتان د ترافیکو د عمومي ریاسـت له لوري رسـنیو سره شریـک شـوي معلومـات ښـیي، چې یـوازې د تېرې یوې میاشـتې په موده کې د ټول هیواد په کچه ۳۳۸ پېښـې ثبت شوي او له امله یې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوښـتې ده.د افغانستان د ترافیکو ریاسـت د معلوماتو له مخې د ترافیکي پېښـو د زیاتوالي اسـاسي لاملونه د سړکونو خراب حالت، د موټر چلوونکـو له خـوا د ترافیکي نښـو نه مراعاتـول، تېز تگ او د نشـه یي توکو کارول دي. ددې لپاره چې د ترافیکي پېښـو گراف راټیـټ کړای شي، دولت او ملت باید په گډه ددغې ستونزې په وړاندې جـدي اقدامات وکړي. دولت مسـئولیت لـري، چـې په خپـل ټول تـوان د لویو لارو او سـړکونو د جوړولو لپاره هڅې وکـړي، ترافیکي قوانین او مقـررات له نړیوالـو پرمختللو معیارونو سره سـم برابر کړي، د موټـر چلوونکو لـه لوري د زیـات سرعـت د مخنیوي لپاره له نویو سـټنډرډو آلاتو اسـتفاده وکـړي او دغه راز د موټـر چلوونکو له خوا د نشـه یي توکو پـر کارولو لا ډېر بندیز ولگوي.ملت هم مسـئولیت لري چـې د لویو لارو او نـورو ټولگټو پروژو په حفـظ او مراقبت کې له دولت سره څنـگ په څنگ ودرېـږي او خپل ملي او اخلاقي مسـئولیت سرته ورسوي.

# ملگري ملتونه باید د افغانستان په اړه معقوله حللاره غوره کړي

د ملگرو ملتونو امنیت شـورا په خپل نوي راپـور کې ادعا کړې، چې اسلامي امارت یوه تک قومي او مستبدانه پالیسي غـوره کړې، اسـلامي امارت دغه راپورغلـط، مغرضانه او لـه حقیقـت څخه لـرې بللي دي.د ملگـرو ملتونـو امنیت شـورا د افغانسـتان په اړه یو نـوی راپور خپـور کړی چې په هغه کې اسـلامي امارت د توکمپالنې او اسـتبدادي چلند پـه نیولو تورن شـوی دی.په دې راپور کې نـورې فرضیې هم شته، هغه دا چې د اسلامي امـارت مـشران اختلافـات لـري، ترهگـرې ډلـې لا هم په افغانسـتان کـې فعالې دي او دغـه هېواد لا هـم د خپلو گاونډیانـو لپاره گواښ دی او داسې ځینې نور مسایل شتون لري.د ملگرو ملتونو د امنیت شـورا د وروسـتي راپـور په اړه د اسـلامي امارت غبرگون څرگند دی، هغـه راپور چې زیاتـره پر فرضیو ولاړ دی او پـه هغه کې هڅه شـوې چې د اسـلامي امارت شـخصیت ترور شي، په افغانسـتان کې د واقعیتونـو د بیان پرخلاف، د ملگرو ملتونـو په ریوټ کې هڅه شـوې چې په افغانستان کـې پـر واقعیتونو سـترگې پټـې شي.د ملگـرو ملتونو د امنیت شـورا راپـور له هره اړخه لـه حقایقـو څخه لري

دي او معلومـه نـه ده چې د دغه راپور مبـدا چېرې ده او لیکـوال د کومـو مـوادو په استناد دغه لیکنه کړې.

په راپور کې اسـلامي امارت د حکومتولـۍ په سـتراتېژۍ کې په تک گرایي تورن شوی دی، خو څرگنده نه ده چې له تک گرایي څخـه هدف څه دي؟

حقیقـت دا دی چـې د یـاد راپـور لیکوال په قصدي ډول د افغانسـتان لـه واقعیتونـو څخه چـې قومي تنـوع یوه ارزښتناکه مسـئله ده تښتېدلی او د دیکتاتورۍ او فشـار له مخـې یې کار کړي او داسـې راپور یې جـوړ کړی چې په افغانسـتان کـې د واقعیتونو انعکاس نشي کولی.

لیکـوال د اسـلامي امـارت د مشرانـو ترمنځ د نظـر د اختـلاف یادونه کـړې او بیا یـې هم فرضیه پـردازي کړې ده او هېڅ خپله یوه خبره یې هم په مسـتند ډول نه ده بیان کړې، په داسـې حال کې چې په اسـلامي امارت کې له امیر څخـه بیعت یـو اصل دی او دا اصل د اسـلامي امارت په ټولو کچو کې رعایت شـوي دی.

په ریوټ کـې بیاهم تکراري خبرې شتون لري

په یاده لیکنـه کې دا هم ویل شـوي« لـه افغانسـتان څخه گاونـډي تـه گـواښ »خو د افغانسـتان د هېڅ یوه گاونډي اندېښـنه هم په کې نه ده ذکر شـوې، لیکـوال په بشـپړې ناپوهۍ سره د دغو بې بنسټه څېړنـو په لیکلـو لاس پورې کړی دی.

په داسې حال کې چې اسلامي امـارت او د گاونډیانو ترمنځ د تعامل او همکارۍ مفکوره شـتون لري او هـره ورځ له گاونډیانـو سره پـه بېلابېلـو برخـو پـه ځانگـړي ډول اقتصـادي اړیکو کـې د نوي پرمختگ شاهدان یو.

دا چـې گاونډي یا له سـیمې څخـه بهـر هېوادونـه پـه افغانسـتان کې د ترهگرو ډلو په اړه خبرې کوي،دا په سیمه کې د نورو د نفوذ او مداخلې د توجیه کولو لپاره د ستونزو مبالغـه کـول دي، هغه ټکي چې د امنیت شورا د وروستي راپـور لیکونکی ورته متوجه شوی نه دی.

په راپور کـې د حقیقت ویلو پـر ځـاي حقیقـت تحریف شـوی او هڅه شـوې چې له نورو هېوادونو سره د اسلامي امـارت له لوري د متقابل عمل او همغږۍ مـخ پر ودې فکر گډوډ کړي.

په دې کې شـک نشته چې له نورو هېوادونـو سره د تعامل لپاره د اسـلامي امـارت پلان خپل مخالفین او دښـمنان لري او د دې مفکـورې یو شـمېر دښـمنان د ملگـرو ملتونو په امنیت شـورا کې نفـوذ لري او یـاده لیکنه هـم د همدغو ښاغلو تر څارنې او سپارښتنې لاندې لیکل شوې.



که ملگري ملتونه د یوه معتبر او بېطرفـه نړیـوال سـازمان پـه توگه وغـواړي چـې په افغانسـتان کـې سـتونزې په رښـتیني ډول حل کـړي، باید د افغانسـتان په اړه معقوله او همکاره حلـلاره غوره کړي، داسـې څه باید و نه کړي چې د تضـاد او تعصـب لـه پلوه اغېزمنـو یا د سـازمان د یوې ډلـې د اسـتازو د لاس ابزار و نـه گرځي، د دغـه نړیوال سـازمان کار بایـد متوازن او واقعبینانه وي.

له بده مرغه وروسـتی راپور د اسـلامي امارت په وړاندې د هماغو نـاوړه تبلیغاتو دوام دي چې پـر آوازو، گومانونو او حاشـیو ولاړ دی او د داسې تگلارې دوام د ملگرو ملتونو اعتبار ته زیان رسـوي او ملگري ملتونه باید له دغه شـان اقداماتو څخه ځان لرې وسـاتي، د تورونو پرځاي باید حقیقت ته تمکین وکړي او له اسـلامي امـارت سره د تعامل لاره خپله کړي. **باختر**

# د درمل جـوړولو فابریـکې په پرانیستلو سره به پرځان بسـیاینې ته ورسېدای شو

**((نـــوري))**

په هیواد کې د درمل جوړولو صنعت وده کړې، او په راتلونکې کې به زموږ اړتیا بهرنیو هیوادونو ته لږې شي.همدې موخې ته د رسېدو لپاره زموږ په هیواد کې د درمل جوړولو شرکتونو فعالیت چټک شوی دی.تېره اوونۍ د درمل جوړولو یوه فابریکه د پنځوسو میلیونو ډالرو په ارزښت د ۷۰ تنو پانگوالو په پانگونې سره په کندهار کې گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.د دغې فابریکې د مسئولینو په اند یوه ورځ کې به ۵ میلیونه تابلیتونه،له ۲ میلیونو ډېر کپسولونه او همدارنگه ۱۰۰ زره د شربت بوتلونه تولید کړای شي.د درمل جوړولو صنعت په یوه هیواد کې د نورو سکتورونو په څېرله ځانگړي ارزښت څخه برخمن دی.داچې د کندهار په ولایت کې د درمل جوړولو فابریکه جوړه او گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.دا بهیر د درمل جوړولو او پرځان بسیاینې برخه کې ډېر ارزښتناک او اغیزمن گام دی،چې د خصوصي سکتور له خوا پورته کېږي.د افغانستان اسلامي امارت د خپلې دوه کلنۍ واکمنۍ په موده کې پر دې توانېدلی،چې د خصوصي سکتور امنیت خوندي کړي،چې هغوی هم په هیواد کې پانگونې ته زړونه ښه کړي.څرنگه،چې د کندهار ولایت د وگړو شمېر ډېر دی د ناروغیو کچه هم لوړه او درملو ته اړتیا هم ډېره ده.له دې وروسته به د دغه ولایت وگړي په ارزانه،ډاډمنه او خوندي توگه کیفیت لرونکي درمل ترلاسه کړای شي.سربېره پر دې اضافي درمل به د هیواد نورو ولایتونو ته ولېږدول شي.زموږ ډېر درمل د ایران،پاکستان او هند له هیوادونو پېرل کېږي. په قاچاقي توگه هم غیر اصلي درمل راوړل کېږي،چې ناروغانو ته هېڅ گټه نه رسوي.کله،چې موږ په خپل هیواد کې د درمل جوړولو فابریکو ته پراختیا ورکړو په اوږدمهال کې به پر دې وتوانېږو،چې د خپلې اړتیا وړ درمل د هیواد په دننه کې تولید کړو او هغه د درملتونونو او خلکو په واک کې ورکړو.د دغو درملو په کارولو سره به زموږ ناروغان له روغتیا برخمن شي او هم به له ډېر لگښت څخه مخنیوی وشي.څرنگه،چې زموږ د درملو فابریکې د مجاهدینو د تېرو خپل منځي جگړو پرمهال ورانې شوې،خو له نېکه مرغه،چې خصوصي سکتور د ۲۰ کلونو په موده کې نوې فابریکې جوړې کړي دي،چې له دغې جملې څخه یوه د هوخست د درمل جوړولو فابریکه ده. څلورنیمې لسیزې مخکې دغې فابریکې،چې د سیمې په کچه یې ښه درمل تولیدول د افغانانو د درملو ستونزې یې تر یوه بریده حل کولې،خو کله،چې ورانه شوه نو له فعالیت څخه ودرېدله.اوس دغه فابریکه بېرته جوړه شوې او د درمل جوړولو پر فعالیت یې پیل کړی او.درمل په ارزانه او ډاډمنه توگه د هیوادوالو په واک کې ورکوي.سره له دې،چې په هیواد کې ۱۲۰د درمل جوړولو شرکتونه فعالیت لري،خو بیا هم موږ په لوړه کچه له گاونډیو هیوادونو لکه ایران او پاکستان څخه درمل پېرو.په دغو درملو کې داسې غیر اصلي درمل هم شتون لري،چې ناروغانو ته هېڅ گټه نه رسوي.ځیني درمل پېژندونکي وایي،چې دغه درمل د گاونډیو هیوادونو په پولو کې د درملوقاچاق وړنکو له خوا برابرېږي او بیا افغانستان ته قاچاق کېږي.په ایران او پاکستان کې ښه او کیفیت لرونکي درمل جوړېږي، خو له بده مرغه،چې دغه درمل د افغانانو په واک کې په لږه اندازه ورکول کېږي او نور درمل له نورو لارو څخه د قاچاق وړونکو له خوا هیواد ته راوړل کېږي .دغه بهیرد عامې روغتیا وزارت او خلکو ته ډېرې ستونزې پیدا کړي دي، که د دغو ستونزو د او ناقانونه درملو د راوړلو مخنیوی ونه شي زموږ د درملو صنعت به له ډېرو نورو گواښونو سره مخ شي.هر کال په سلهاوو میلیونه ډالره له هیواد څخه د درملو د پېرلو په موخه وځي.دا هم زموږ اقتصاد ته ډېر تاوان پېښوي.موږ باید د خپل هیواد له درملو گټه پورته کړو،چې زموږ د درملو صنعت پر پښو ودرېږي.کله،چې موږ د خپلو تولیداتو په ځای له بهرنیو درملو گټه پورته کوو یوه ستونزه دا ده،چې ټول دغه درمل اصلي نه دي او په منځ کې یې غیر اصلي درمل هم شتون لري،کله،چې ناروغان درملو ته اړتیا پیدا کوي هم یې پیسې لگېږي او غیر اصلي درمل ترلاسه... ۵مخ

# د نیالګیو په اوبه کولو او ساتنه کې د خلکو همکاري اړینه ده

**شاه محمود درویش**

د پسرلي د ښکلي او ښایسته موسم په راتلو، سره له دې چې د هیواد په ټولو غرونو، رغونو او دښتو کې ګلان راټوکیږي، چې په غوړیدو یې له خوشبویېو ډکې وږمې هره خوا لګیږي او د ټولو انسانانو روح او روان تازه کوي، پردې بنسټ دیوې حیاتي او مهمې اړتیا په توګه دیو سالم چاپیریال د رامنځته کېدو په خاطر چې د نوي کال د پیل په ویاړ د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د دولتي ارګانونو، خصوصي بنسټونو او پـه ټوله کې د قدرمنو هیوادوالو له لورې دکورونو، کلیو بانډو، ښارونو په ټولو اړوندو سیمو کې چې کوم نیالګي او نورې راز راز ونې او بوټي کښینول شوي، د با مسئولیته ښاریانو په توګه موږ ټولو ته لازمه ده، ددې لپاره چې اوس مهال هوا هم ګرمه شوې او لاهم د ګرمیدو په حال کې ده، باید پـه ټوله کې د کښینول شویو نیالګیو، ونو او ګلبوټو اوبه کولو ته په بشپړه هیوادپالنه متې رابډوهو، ترڅو دهغو له وچېدو څخه مخنیوی وشي. البته دې ټکي ته مو باید پام وي چې ونه د انسان لپاره د لوی خدای(ج) یو ډیر ارزښتناک نعمت او د خلقت یو ډیر ښکلي مظهر او د بشریت د پیدا کوونکو تجلیاتو یوه ښه ځرګندویه ده او د هغه حیاتي رول په دلیل چې د ټولو ژوندیو موجوداتو په تېره بیا د انسانانو په ژوند کې یې لري د اسلام په مبین دین کې دخاصې پاملرنې وړګرځیدلې ده، د نیالګیو کښینول زموږ د خلکو یو لرغوني دود بلل کېږي چې کال په کال د ښارونو د سمسورتیا په موخه نیالګي کښینول کېږي، د ټولنې ټول وګړي دهغه مسئولیت له مخې چې د ښار او خپل استوګنځي په وړاندې یې لري ددغه بهیر د پرمخ بیولو په کار کې ونډه اخلي او نیالګي کښینوي او ساتنه یې کوي، نو په هیواد کې د نیالګیو د کښینولو د پروګرام په دوام او د هیواد د ژوندانه د چاپیریال د حالت د ښه والي په موخه ټولو قدرمنو هیوادوالو ته ښایي چې د پسرلي په دغه ښکلي موسم کې د یووالي په روحیه د طبیعت په ښکلا کې د همت ملاوتړي او د ژوندانه چاپیریال د سمسورتیا او د ګران هیواد د طبیعت د لا ښکلا په خاطر هر هیوادوال باید د کښینول شویو نیالګیو، ونو او ګلبوټو اوبه کولو، ساتنې او څارنې ته په بشپړه هیوادپالنه د اړوندو ښاروالیو له کارکوونکو سره په هراړخیزې همکارۍ، دو هم خپل ایماني، وجداني او ملي پور ادا کړي. البته په دې ټول ښه پوهیږي چې ګران هیواد سر لوړی افغانستان زموږ د ټولو مېشتو ورونو قومونو ګډ کور دي،



نو اړینه ده چې دخپل ګران هیواد د آبادي، سمسورتیا، زرغونتیا، ښیرازي او پرمختګ په موخه په هیوادني لوړ او سپیڅلي احساس، رښتیني مینه او بشپړې ځواکمنتیا کار او زیارته متې رابډوهو او په نه ستړي کېدونکي توګه د پسرلي له ښایسته ګلونو، شنو بوټو او زرغونو کروندو سره یو ځای خپل زړونه خپل کورونه، خپل ښارونه او بالاخره سر لوړی افغانستان چې زموږ د ټولو افغانانو ګډ کور دې او د تیرو کابو څه باندې څلورو لسیزو جګړو کې کړیدلي، ځوریدلي، کنډو کپرشوي، له هره پلوه ورغوو او پر یو ښکلي او سمسور ګلبڼ یې بدل کړو، نو زموږ دغه هیله واقعاً هغه وخت په حقیقت بدلیدلې شي چې زموږ هر پتمن هیوادوال د خپل وطن او خلکو په وړاندې د مسئولیت احساس وکړي او پـه هر اړخیزه توګه دهیواد په ابادۍ او ښیرازۍ کې خپله بې دریغه مرسته او همکاري ونه سپموي، پردې بنسټ اړینه او ضروري بریښي چې ټول افغانان په پوره همغږۍ او د فکر په یووالي سره په رښتیني توګه لاس پـه کار شي او د امکان تـر حده په اړوندو سیمو کې د دولتي یا غیر دولتي بنسټونو او ارګانونو له خوا چې کوم نیالګي او ګلبوټي کښینول شوي دي د هغو کلکه ساتنه، څارنه او پالنه وکړو، یعنې په مناسبو وختونو کې یې اوبه کړو او لـه ماتولو او وچېدو څخه یې هم وژغورو، نو هغه وخت به زموږ هیواد په یو ښکلي، ښایسته او په حقیقت کې په یوه رښتیني ګلبڼ بدل شي او د روغتیا له پلوه به زموږ د ژوندانه چاپیریال هم خوندي شي.

# له دیني پلوه د سلام اچولو ارزښت او ټولنیزې ګټې؟!

**م. احسان الله بلال**

الله تعالی انسانان مدني طبیعته پیدا کړي دي، په دې معنا چې له نورو انسانانو پرته یوازې ژوند نشي کولی، بلکې هرو مرو به په یوه ټولنه کې ژوند کوي. د اسلام له راتګه وړاندې انساني ټولنه کې نا امني، فساد او د یو بل وژل او لوټل اوج ته رسېدلي وو، اسلام ببرته انساني ټولنې ته نېکمرغي، امنیت او ډاډ راوړ، لار ورکې انسان ورکه لاره وموندله او د خپل حق معبود او پیداکوونکي سره یې شلېدلې اړیکه ببرته فعاله شوه.اسلام د نورو بنسټیزو اصلاحاتو ترڅنګ د خلکو ترمنځ له یو بل سره د ملاقات او مخامخ کېدو پر مهال ډېره کارول کېدونکي جمله هم اصلاح کړه. له اسلام وړاندې به د مخامخ کېدو پرمهال ښه راغلاست او ورته نور الفاظ کارول کېدل؛ خو اسلام دغه الفاظ په «السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته» بدل کړل او مسلمانان یې وهڅول، چې د لیدنو کتنو پرمهال دغه ښکلې جمله ووايي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی:

حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله تعالی عنه روایت کوي، چې یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وپوښتل: کوم اسلام غوره دی؟ هغه ورته وویل: «چې پر اړمنو ډوډۍ وخورې او په ټولو خلکو، که یې پېژنې یانه، سلام واچوې)) [صحیح بخاري، باب افشاء السلام من الاسلام، رقم الحدیث: ۲۸] په دغې ښکلې جمله کې د اخروي ثوابونو او فضیلتونو ژمنه شوې او مسلمانان هڅول شوي، چې د سلام پوره کلمات وکاروي او پوره ثواب ترلاسه کړي، دغه راز په چا چې سلام ویل شوی، هغه ته هم لارښوونه شوې، چې له سلام کوونکي په ښه ډول د سلام ځواب ووايي او یا یې د هغه په څېر ځواب کړي، الله تعالی فرمايي:

(النساء:۸۶)

ژباړه: او کله چې سلام درته وویل شو، نو تر هغه لا ښه سلام ورته ووایئ یا هماغه ور وګرځوئ، بې شکه الله په هرڅه ښه حساب کوونکی دی.پر اخروي ثوابونو او فضیلتونو سربېره په دغې جمله کې د امن او ډاډ پیغام هم پروت دی، داسې چې څوک پر چا سلام اچوي، هغه ژمنه کوي چې ستا وینه، مال او عزت زما له لورې خوندي دی، دغه راز دویم کس چې د سلام ځواب وايي، هغه هم ورته ژمنه کوي او په کومه ټولنه کې چې د خلکو وینه/ځان، مال او عزت خوندي وي هلته امن، ډاډ او سکون وي او هغه ټولنه په رښتیني معنا نېکمرغه ګڼل کېږي.

تــکنالوجي

# مصـــنوعي سپوږمکـــۍ (ســـیټلایټ) څـــه شـــی دی؟

**ادریــس سنــګر**

انسان باید له ځمکې پورته لاړ شي تر اتموسفیره له هغه نه هم پورته تر څو هغه ځمکه وپېژني چې پرې ژوند کوي.

**انجنیر نجي‌الله((حکیم))**

سقراط دغه خبره څو پیړۍ مخکې هغه وخت کړې وه چې دوي سوچ هم نشو کولای چې انسان به یوه ورځ د ځمکې په مدار کې یو جسم ږدي، خو بیا هم سقراط دا مشاهده کړې وه چې د ځمکې له فضا څخه ځمکه لیدل څومره ګټور دي.

دغه نظریه چې انسان څنګه د ځمکې فضا، له هغې پورته اتموسفیر او له هغه هم پورته یو جسم کیږدي تر ۱۷۲۹ کال پورې یو نظر پاتې شو. تر څو نیوتن خپله مشهوره تجربه د پنډوسکي غورځولو ورکړه هغه وویل که چیرته تاسې د غره پر سر یو توپ کې پنډوسکه په افقي ډول په پوره فشار سره وغورځوئ، نو دغه توپ به له ځمکې پورته لاړ شي، خو یو څه وخت وروسته به بیرته د ځمکې جاذبې قوې له امله راوغورځي.

که چیرې تاسې دغه توپ ته زیات باروت ورکړئ چې دغه بال په دومره سرعت سره یعني ۴۰۳۲۰ کیلو متره/ساعت له ځمکې پورته کړي ، د ځمکې د جاذبې قوه پرې غلبه نشي کولې، نو دغه بال به د ځمکې له جاذبې قوې نه وځي او د ځمکې په یو مدار کې بـه حرکت کوي او د ځمکې د جاذبې قوې له امله به هیڅکله ځمکې ته راونه غورځي.

بالاخره روسانو د نیوتن تجربه په ثبوت ورسوله او په ۱۹۵۷م کال یې په لومړي ځل د ځمکې مدار ته مصنوعي سپوږمکۍ چې د سپوتنیک په نوم یادیده داخله کړه.

دروسانو دغه کار نړیوال په یوه ضد کې واچول او هر چا دغه کوښښ کاوه چې له نورو مخکې د ځمکې فضا تسخیره کړي. له سپوتنیک نه وروسته یواځې امریکا ،چین او روسیې د ځمکې مدار ته ۲۵۰۰ مصنوعي سپوږمکۍ داخلې کړې، له دغو سپوږمکیو څخه د هوا له حالاتو، د تلویزیون نشراتو او د تلیفوني شبکو په برخه کې زیات کار اخستل کیږي. پـه اوس وختونو کې د ځمکې په فضا کې تـر ۱۰۵۱ پورې مصنوعي سپوږمکۍ فعالې دي چې له دغو سپوږمکیو څخه نړیوال په مختلفو برخو کې کار اخلي چې پدې کې یې تر نیمایي زیاتې د امریکا دي او دهغوی لخوا اداره کیږي.

**مصنوعي سپوږمکۍ؟**

هر هغه جسم چې د ځمکې په فضا کې د ځمکې شاوخوا او یا هم د یو بل ستوري شاوخوا په دایروي شکل حرکت کوي سپوږمکۍ (سیټلایټ) بلل کیږي.

د ځمکې سپوږمکۍ طبیعي سپوږمکۍ ده او هره هغه چې د انسان په لاس جوړه شوې وي هغه مصنوعي سپوږمکۍ بللې کیږي، هغه لاره چې دغه سپوګمکۍ پرې حرکت کوي مدار بلل کیږي چې کروي شکل لري. هغه سپوږمکۍ چې ځمکې ته نږدې وي د ځمکې د جاذبې قوې له امله تیز حرکت کوي او هغه چې له ځمکې ډېره فاصله ولري، حرکت یې ورو وي.

**مصنوعي سپوږمکۍ پـه فضا کې مختلفې وظیفې سرته رسوي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:**

۱:Weather satellites: لـه هواپیژندونکو سره مرسته کوي تر څو د هوا وړاندوینه وکړي او ووایي چې په راروان وخت کې به هوا څنګه وي؟ په دغو سپوږمکیو کې لویې کمرې لګیدلې چې له فضا نه ځمکه څاري او د هغې عکسونه ځمکې ته رالیږي. دغه ډول سپوږمکیو مدار له ځمکې نه ۳۷۰۰۰ څخه تر ۴۰۰۰۰ کیلومتره پورته وي او د ځمکې د حرکت سره سم حرکت کوي. خوشبختانه چې افغانستان هم دغه ډول یوه سپوږمۍ په فضا کې لري.

۲:Communications satellites: دغه سپوږمکۍ د تلیفوني مکالمو او همدارنګه د انټرنیټي شبکو لپاره په کار راځي تر څو استعمالوونکي وکولای شي خپل معلومات په اسانۍ سره نورو ته واستوي او یا هم له نورو یې په اسانۍ سره لاس ته راوړي دغه ډول سپوږمکۍ د ځمکې له ۸۰۰-څخه تر ۱۶۰۰ کیلومتره پورته وي چې مشهورې کمپنۍ دغسې سپوږمکۍ فضا ته استوي او له هغې ګټه لاس ته راوړي دمثال په توګه د انتل سیت او ټیل ستار چې لـه ۶۰ زیاتې سپوږمکۍ په ۱۳ مختلفو مدارونو کې په فضا کې لري د دغسې یوې شبکې د فعالولو لپاره.

۳:Scientific satellites: لکه حبل تلسکوپ چې په فضا کې د ساینسي څیړنو لپاره ترې کار اخیستل کیږي دغه سپوږمکۍ پخپل منځ کې یو ډېر حساس تلسکوپ لري چې کولای شي ۱۰ بلیونه نوري کاله لرې فضا وڅېړي ، فضا نوردان ورڅخه د فضا په څېړنو په فضا کې د بدلونونو په مشاهده کولو او همدارنګه د نورو شمسي نظامونو په پیداکولو او د هغو په مطالعه کولو کې ترې کار اخلي.

۴:Earth observation satellites: دغه ډول سپوږمکیو نه د ځمکې د سطحې د بدلونونو په مشاهده کولو، د تودوخې درجې په معلوملو او د ځمکې د شمالي قطب د یخچالونو په مطالعه کولو کې کار اخلي.

۵:Military satellites : لـه دغـه ډول سپوږمکیو پـه دفاعي او پوځي برخه کې کار اخیستل کیږي د دغو سپوږمکیو اصلي معلومات په راز کې ساتلې کیږي، خو ځیني یې د دښمن د حرکاتو مشاهده کول، د مزایل او راکټونو خبرداري ورکول د اټومي بټیو ساتل او حفاظت ،د راډیویي امواجو کشف، د پټو ځایونو عکسونه اخیستل او همدارنګه نورو زیاتو برخو کې ترې کار اخیستل کیږي.

**د مصنوعي سپوږمکۍ په داخل که څه وي؟**

مصنوعي سپوږمکۍ په مختلفو اشکالو او اندازو کې موجودې دي او بیلا بیلې وظیفې سرته رسوي د هرې سپوږمکۍ داخلي جوړښت بیل وي، خو ځینې برخې د ټولو سپوږمکیو یو شان وي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- ټولې سپوږمکۍ د وسپنې یوه تنه لري تر څو د سپوږمکۍ نورې برخې ورباندې کلکې ونښلول شي تر څو فضا ته په پورته کولو کې یې داخلي برخې ته زرر ونه رسیږي په اوسط ډول د یوې سپوږمکۍ رغول او فضا ته لیږل ۲ کاله وخت نیسي فضا ته په یو پونډ وزن لیږلو ۳۰۰۰۰ ډالره مصرف راځي، نو ځکه سپوږمکۍ جوړوونکي ډېر کوښښ کوي تر څو یې سپوږمکۍ ډېر وزن ونه لري.

- د سپوږمکۍ د داخلي پرزو د فعالولو او د کمپیوټر د فعال ساتلو لپاره برق او انرژۍ تـه ضرورت وي چې دغه برق د شمسي پینلو په مرسته بیټریو ته او بیا سپوږمکۍ ته ورکول کېږي په اوسط ډول د یو سولر پینل اوږدوالی په سپوږمکۍ کې تر ۳۰ مترو پورې رسیږي او ددغو سولر پینلو ظرفیت د ځمکې په نسبت څو چنده زیات وي چې علت یې لمر تـه د دوی ډیر نیږدېوالې او د اتموسفیر طبقې نشتوالی دی. دیادونې وړ ده چې د برق او نورې انرژۍ ټول معلومات د ځمکې کنټرول سنټر ته رالیږدول کیږي او دوي یې هر وخت څاري.

- په سپوږمکۍ کې یو کمپیوټر هم موجود وي چې مختلف سیستمونه کنټرولوي.

- ټولې سپوږمکۍ یو د راډیویي امواجو لیږدونکي او همدارنګه رانیونکي لري چې د همدغه راډیویي امواجو په مرسته ځمکې ته معلومات رالیږي او له ځمکې نه هم کمانډز یا حکمونه ورلیږل کیږي.




- ټولې سپوږمکۍ د ارتفاع د یا پخپل مدار کې د ساتلو یو سیستم لري که چیرې سپوږمکۍ له خپل مدار نه ووځي د ځمکې د جاذبې قوې له امله او یا هم د نورو علتونو له امله نو په ځمکه کې موجودو اداري کسانو ته دغه معلومات د دغه سیستم له لارې رارسیږي چې بیا دوي په سپوږمکۍ کې موجود (Thruster) ته مناسب فشار ورکوي تر څو سپوږمکۍ بیرته خپل مدار ته راوګرځي چې دغه ټولې برخې یوځای کول او فضا ته استول ډېر حساس او زیات دقت غواړي او ډېر وخت په بر کې نیسي.

ټولې سپوږمکۍ د یو راکټ په مرسته فضا ته لیږدول کیږي ځیني هیوادونه او شخصي کمپنۍ ددې توان لري چې تر څو ټنه پورې وزنې سپوږمکۍ فضا ته ولیږي. پـه لومړیو کې راکټ فضا ته په مستقیم ډول توغول کیږي او بیا ددې لپاره چې انرژي کمه مصرف شي د اتموسفیر له هغې برخې چې نرۍ وي پورته فضا ته خیږول کیږي.

عموماً راکټ د ځمکې د وضعي حرکت په مطابق پورته غورځول کیږي تر څو راکټ ته مناسب اندازه تیز حرکت ورکړي دغه وضعي حرکت اثر عموما په شمالي قطب کې زیات وي نو ځکه د راکټ مخه په همغه طرف وي.

د یادونې وړ ده چې ددغسې راکټ په استولو ډېره زیاته انرژي او تیل مصرف راځي او زیات اقتصادي امکاناتو ته ضرورت لري پرمختللي هېوادونه ددې په لټه کې دي تر څو څرنګه وکولای شي ددې شمسي نظام نورو سیارو ته او همدارنګه نورو شمسي نظامونو ته ځان ورسوي تر څو هلته د ژوند امکانات وڅېړي، ځکه دوي هم اوس پدې پوه شوي چې دغه ځمکه یو معین ژوند لري او یو ورځ به ختمیږي چې موږ مسلمانان ورته قیامت وایو ، خو د دوي په لاره کې یواځیني خنډ د داسې انرژۍ لاس کې نه لرل دي چې هغه په واسطه د دوي دغه راکټونه په ډیر زیات سرعت سره ډېره فاصله ووهي تاسې خپله فکر وکړئ پـه ۱۹۷۷م کال کې ناسا (دامریکا فضایي څېړنیزه اداره) د وایجر په نوم سپوږمکۍ فضا ته ددې لپاره ولیږله تر څو له لمریز نظام نه بهر ووځي دغه ویجر ۶۲,۱۳۶ کیلومتره/ساعت مزل سره پس لـه ۳۵ کاله له شمسي نظام نه بهر ووتله، نو که چیرې یو غټ راکټ چې په هغه کې انسانان هم ناست وي، په څومره وخت کې به له شمسي نظام څخه وځي؟!!

# د تابعينو د ژوند پلوشې

## حضرت الربيع بن خثيم رح

### پنځمه برخه

ژباړه :مولوی فيض الله ||||||||||| ترتيب کوونکی: وحيدالله عمر المدنی

د عمر بن عبدالعزيز وزير، قاضي او مشاور ميمون بن مهران حکايت کوي او وايي: زه عمر بن عبدالعزيز- رحمه الله- ته ورغلم که مي کتل له ده سره مي يو ليک پيدا کړ، چي خپل زوی عبدالملک ته يي پکښي نصيحت، وعظ، بصيرت، د الله تعالى څخه بېره او زېری ليکلي و او داسي ويناوي پکښي راغلي وي: وروسته تر... بېشکه ته زما د ويناوو ښه ساتونکی او زما د خبرو فهمونکی يې. الله تعالى لره دي حمد وي چي زما لوی او کوچني امور يي نېک او صالح کړي دي. اې زويه! د الله تعالى فضل درياد کړه چي پر تا او ستا پر والدينو يي کړی دئ. د کبر او لويي څخه ځان وساته؛ ځکه دا د شيطان له اعمالو څخه دي او شيطان د مؤمنانو ښرګند دښمن دئ. ما تاته دغه ليک په دې وجه نه دئ لېږلی چي ستا په باره کي زه خبر سوی يم، ځکه ما په تا کي يوازي خير او نېکي ليدلې ده، ليکن زه ستا په اړه خبر سوی يم چي ته پر ځان فخر کوې او که دغه فخر او عجب پر تا هغه څه وکړل چي زه يې ښه نه ګڼم نو ته به له ما څخه هغه څه ووينې چي ته يې ښه نه ګڼې. وروسته عمر- رحمه الله- راته وکتل او و يې ويل: اې ميمون! زوی مي عبدالملک راته ډېر ښه ښکارېږي او زه په دې ځان ملامتوم او زه بېرېږم چي داسي نه وي چي دغه محبت زه ړوند کړی يم او زما معلومات د ده په اړه کم وي او زه هم داسي سوی يم لکه پلرونه چي د خپلو اولادو د عيبو څخه ړانده وي. ده ته ورسه او حالات يي وڅېړه چي آيا په ده کي هغه کارونه سته چي له کبر او فخر سره ورته والی لري؟ ځکه دی نوی ځوان دئ او زه پر ده باندي د شيطان څخه په امن نه يم.

ميمون وايي:

زه هم پر سفر روان سوم تر څو چي عبدالملک ته ورسېدم، اجازه مي واخيستله او ورغلم، ګورم چي يو هلک په تازه عمر، ځلېدونکي ځوانی، ښايسته مخ، د تواضع څخه ډک چي پر يوه سپين فرش ناست وو کوم چي له وړيو څخه جوړ و. ما ته يې ښه راغلاست ووايه او راته يي وويل:

له پلار څخه مي اورېدلي دي چي ته د ده خيرخواه يي او زه اميد لرم چي ستا په سبب الله تعالى موږ ته ګټه ورسوي.

ما ورته وويل:

ستا څه حال دی؟

ده وويل:

د الله تعالى فضل دئ ښه يم ليکن زه بېرېږم چي زما د پلار نېکه ګومان پر ما باندي ما دوکه او خطا نه کړي او زه دومره هم نه يم ښه څومره چي دی فکر کوي او زه دا وهم لرم چي د ده زما سره محبت ډېر غالب دئ زما پر معرفت او پېژندنه باندي، نو زه به ده لره آفت سم.

د دوی دوو د خبرو يووالی په حيرانتيا کي واچولم او ورته و مي ويل:

خبر مي کړه چي له کوم ځای څخه دي نفقه ده؟

ده وويل:

د هغي مځکي د غلې څخه مي خوراک دئ چي له داسي کس څخه مي رانيولې چي هغه له خپل پلار څخه په مېراث وړې ده او په داسي پيسو مي رانيولې چي هيڅ شبه پکښي نه سته او په همدې سره مي د مسلمانانو د خراج څخه ځان ساتلی دئ.

ورته مي وويل:

خوراک دي څه شي دي؟

ده وويل:

يوه شپه غوښي، يوه شپه دال او غوړي او يوه شپه سرکه او غوړ، په همدې مو ګوزه وي.

ورته و مي ويل:

آيا نفس خو به دي ځان نه خوښوي؟

ده وويل:

په ما کي داسي يو څه و، چي ځان مي خوښوئ، ليکن کله چي پلار مي نصيحت راته وکړ نو د خپل ځان په حقيقت پوه سوم او ځان راته خوار ښکاره او قدر يي زما په سترګو کي لږ سو، الله تعالى دي زما پلار ته د خير جزاء ورکړي چي د ده په سبب ما ته الله تعالى فائده رانصيب کړه.

نو له ده سره يو څه وخت ناست وم او خبري مي ورسره کولې او د ده له خبرو اترو مي خوند اخيست، هيڅ ځوان مي داسي په څېره کي ښايسته نه وو ليدلی او نه مي داسي هوښيار او پوه کس ليدلی وو، نه مي هم داسي په سن کشر او په تجربه کم ځوان ليدلی و، چي دومره ادبناکه دي وي.

کله چي د ورځي آخري برخه سوه يو هلک ورته راغلئ او ويې ويل:

الله تعالى دي تاسو وساتي موږ فارغه سو...

دی چوپ سو...

ما ورته وويل:

دا کوم کار و، چي دوی ځني فارغ سول؟

ده وويل:

حمام دی.

ما ورته وويل:

څنګه؟

ده وويل:

هغوی له خلکو څخه زما لپاره خالي کړ.

ما ورته وويل:

ته زما لپاره يو ستر شخص وې تر څو چي مي دغه در څخه واورېدل.

دی و بېرېدئ او (انا لله و انا اليه راجعون) يې وويل او داسي يې وويل:

اې اکا! الله تعالى دي رحم درباندي وکړي، ولي څه پېښه سوه او په دې کي څه خبره ده؟

ما ورته وويل:

حمام يوازي ستا لپاره دئ؟

ده وويل:

نه!

ما ورته وويل:

نو ته څه شي مجبور کړې چي خلګ له حمام څخه وباسې؟ ته لکه چي په دې کار سره دا اراده لرې چي ځان له نورو لوړ ښکاره کړې او ځان له دوی لوړ وبولې او حمامي ته ددغې ورځي د کرايې ضرر هم ور رسوې او هغه خلک چي په دغې ورځ حمام ته راځي هغوی ځني بندوې.

ده وويل:

حمامي ته د هغې ورځي پوره کرايه ورکوم او راضي کړی مي دئ.

ورته و مي ويل:

دا خو د اسراف نفقه ده چي کبر ورسره ګډ د، ته ولي د عادي خلکو په څېر له هغوی سره يوځای حمام ته نه ځې؟

ده وويل:

د شپنويوه ډله مي له دې کار څخه منع کوي ځکه هغوی حمام ته بې لنګه او بې پردې داخلېږي ،نو زما دا نه خوښېږي چي د دوی عورتونه ووينم او داهم بده ګڼم چي دوی په لنګ تړلو مجبور کړم؛ ځکه دوی به داسي فکر کوي چي دی له خپل قدرت او مشرتوب څخه استفاده کوي ليکن زه له الله تعالى څخه دا غوښتنه کوم چي الله تعالى مي داسي خلاص کړي چي سره مساوي سو، نه زما لپاره ضرر او نه هم ګټه سي.

وروسته يې وويل:

الله تعالى دي رحم درباندي وکړي، نصيحت راته وکړه او داسي لاره راته وښيه چي له دغه کار څخه ځان وژغورم.

نو مي ورته وويل:

ته تر هغه وخته پوري انتظار کوه تر څو چي خلک له حمام څخه راووزي او خپلو کورونو ته ستانه سي وروسته ته ورځه.

ده وويل:

حتماً! هېڅکله به هم له نن ورځي څخه وروسته د ورځي له طرفه ور نه سم او که په دغه ښار کي ډېر يخ نه وای نو هيڅکله به هم نه وای ورغلی.

سر يې د مځکي طرف ته کښته کړ لکه د يو کار په باره کي چي فکر کوي، وروسته يې سر زما خوا ته راپورته کړ او و يې ويل:

زه تا ته قسم درکوم چي ته به دا خبره زما له پلار څخه خامخا پټوې؛ ځکه زه نه خوښوم چي نوموړی دي ما ته په قهر سي او زه پر دې بېرېږم چي اجل يې داسي وخت را نه سي چي له ما څخه ناراضه وي.

ميمون وايي:

اراده مي وکړه چي د ده ځيرکتيا و ازمويم، ورته و مي ويل:

که چيري اميرالمؤمنين راڅخه و پوښتل: په ده کي خو به دي څه نه وي ليدلي؟ نو آيا ته په دې خوشحاله يې چي زه درواغ ورته ووايم؟

ده وويل:

يا! په الله تعالى سره پناه غواړم، ليکن داسي ورته ووايه:

له ده څخه مي يو کار وليد او نصيحت مي ورته وکړ او دده په فکر کي مي هغه ډېر غټ ښکاره کړ، نو ده هم سمدستي هغه کار پرېښوو او زما پلار داسي نه دئ چي د هغه څه معلومات کوي چي ته يې نه ورته ښکاره کوې، ځکه الله تعالى دی د داسي بحثو څخه ساتلی چي هغه يې پټ کړي دي.

ميمون وايي:

هېڅکله مي د دوی په شان پلار او زوی نه وو ليدلي، الله تعالى دي رحم پرې وکړي.

په اسلام کي عمر بن عبد العزيز بن مروان رحمه الله (۶۱/۱۰۱هـ) دومره لوړ مقام لري چي د امت لويو علماو هغه پنځم راشد خليفه بللی دی، دې لوړ مقام ته هغه د خلافت په نسبةً کمه موده کي رسيدلی و ځکه د هغه د خلافت دوره په دقيقه توګه دوه کاله او پنځه مياشتي وه.

په اموي خلفاوو کي دی يواځنی خليفه و، چي له ده وروسته عباسي خلفاوو هم منلی و آن تر دې پوري چي اهل تشيع هم ده ته د احترام په نظر ګوري او له مسلمانانو پرته کفار هم ده ته احترام لري د محمد بن معبد په نامه يو راوي وايي چي زه د روم پاچا ته ورغلم هغه ډېر غمجن و او په ځمکه ناست و ما چې پوښتنه ورنه وکړه هغه راته وويل: ته خبر نه يې څومره ستره پيښه رامنځته شوې ده؟ ما ورته وويل: څه پيښه رامنځته شوې ده؟ هغه راته وويل: يو صالح انسان وفات شوی دی، ماورته وويل: دا صالح انسان څوک دی؟ د روم پاچا راته وويل: عمر بن عبد العزيز وفات شوی دی! زه فکر کوم که له عيسي عليه السلام وروسته داسي څوک وي چې هغه مړي راژوندي کولی شي نو هغه به عمر بن عبدالعزيز و.

د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د وفات په شپو کي يو عيسايي راهب چا په ژړا وليد، پوښتنه ورنه وشوه چي ولي ژاړې؟ هغه ورته وويل: ځکه ژاړم چي د ځمکي پر مخ يو نور و اوس به هغه نور نه وي.

د عمر بن العزيز له وفات وروسته يو چا د ده له ميرمنې فاطمه بنت عبدالملک رحمها الله نه پوښتنه وکړه چي د ده کوم خاص خوی او عادت راته وښيه هغې ورته وويل: په خدای قسم عمر په لمانځه او روژه کي له تاسو نه زيات نه و، خو په الله قسم چي ما د هغه په څير له الله ويريدونکی انسان ندی ليدلی.

يوه ورځ د ماخستن له لمانځه وروسته کورته راغی په کور کي يې خپلو کوچنيو لوڼو ته سلام وکړ هغوی د عادت په خلاف د ده خواته ورنغلې بلکي له ده ازادې شوې او خولې يې پټې کړې پوښتنه يې وکړه چي دوی ولې خولې پټې او له ما لرې شوې، ورته وويل شول چي نن د ماخستن په ډوډۍ کي بل شی نه و دال او پياز يې خوړلي دي له تا ځکه لرې شوې چي تاته يې له خولو نه د پياز بوی درنشي، په دې سره دی په ژړا شو او خپلو لوڼو ته يې وويل: يا بناتي، ما ينفعكُنَّ أنْ تَعشْنَ الألوان والأطايب، ثم يُذهَبُ بأبيكُنَّ إلى النار. ای زما لوڼو ستاسو له پاره ګټه نده که تاسو ډول ډول ښه خوراکونه وخورئ او بيا مو پلار اور ته ولاړ شي.

د ده نږدې ملګری او مخلص وزير رجاء بن حيوه رحمه الله وايي: کله چي عمر د مدينې والي و ماته يې وويل له بازاره يوه جوړه جامې راته راوړه ما په بازار کي په پنځه سوه درهمه جامې واخيستلې چي ده ته مي راوړې ده وکتلې او ويې ويل: ښې جامې دي خو ارزانه او کم ارزښته دي، رجاء وايي کله چي دی خليفه شو راته ويې ويل يوه جوړه جامې راته راوړه له بازاره مي په پنځه درهمه يوه جوړه جامې ورته راوړې چي ده وکتلې راته ويې ويل: ښې جامې دي خو چې ګرانې نه وی!! .

رجاء بن حيوه رحمه الله وايي: ماچې د ده دا خبره واوريدله ومې ژړل ده راته وويل: ولي ژاړې؟ ما ورته وويل: څو کاله مخکي مي ستا جامې او د هغو په اړه ستاخبره رايادہ شوه چي هلته دي د پنځو سوو درهمو جامه ارزانه بلله او اوس د پنځو درهمو جامه ګرانه بولې!

. عمر د دې بدلون راز رجاء ته داسي بيان کړ: ای رجاء! زه د نه مړيدونکي نفس خاوند يم کله چې يو شی ترلاسه کړم له هغه ښه او غوره شي ته مي زړه وشي، زما د تره لور فاطمي سره مي واده زړه غوښت هغه مي ترلاسه کړه بيا مي امارت ته زړه وشو هغه مي هم ترلاسه کړ له هغه وروسته مي خلافت ترلاسه کړ او د خلافت د ستر مقام له ترلاسه کولو وروسته مي اوس جنت ته زړه کيږي غواړم جنت ترلاسه کړم. الله دي ورنه راضي شي او فردوس جنت دي نصيب شي.

عبد الرحمن بن قاسم – رحمه الله تعالى- د منصور دربار ته ورغی، په هغې ورځ چي نوموړی خليفه وټاکل سو، نو منصور ورته وويل:

اې عبد الرحمن! نصيحت راته وکړه.

هغه ورته وويل:

په څه شي نصيحت درته وکړم؟ هغه چي ما ليدلي او که اورېدلي؟

منصور وويل:

په هغه څه چي تا ليدلي وي.

عبد الرحمن وويل:

اې امير المؤمنين!

عمر بن عبد العزيز – رحمه الله تعالى- يوولس اولادونه لرل خو اتلس دينارونه يي پرېښوول، چي په پنځو دينارو کفن ورکړ سو، په څلورو دينارو قبر ورته ونيول سو او پاته نهه ديناره يې پر يوولسو اولادونو ووېشل شول.

او هشام بن عبد الملک يوولس اولادونه درلودل، چي د ترکي څخه د دوی د هر يوه لس لکه (يو مليون) دينارونه وو.

والله! اې امير المؤمنين! ما يوه ورځ د عمر بن عبد العزيز – رحمه الله تعالى- له زامنو څخه يو زوی وليد، چي د الله عزوجل په لاره کي يې سل سونه صدقه کړل، مګر د هشام يو زوی مي وليد، چي په بازارونو کي يې سوال او فقر کاوه.

کله چي عمر بن عبد العزيز – رحمه الله تعالى- د مرګ پر بستر باندي پروت و، نو خلکو ورڅخه وپوښتل:

اې عمره! تا د خپلو اولادونو لپاره څه پرېښوول؟

هغه ورته وويل:

ما دوی ته له الله تعالى څخه وېره او تقوا پرېښوول، که چيري دوی نېکان او صالحان وي نو الله سبحانه و تعالى د صالحانو او نېکانو ساتنه کوي او که چيري دوی بدان وي نو زه دوی ته داسي څه نه پرېږدم چي د هغه په سبب دوی د الله تعالى نافرماني وکړي.

اوس نو فکر وکړه!

ډېر خلک د دې لپاره کوښښ کوي، خواري کاږي، خولې تويوي تر څو د خپلو اولادونو راتلونکې جوړ کړي او دا ګومان يې وي چي د دوی له مرګه وروسته د مال او جايداد شتون د دوی د اولادونو لپاره امان او ساتنه ده، په داسي حال کي چي د هغه لوی امان او ساتني څخه چي الله سبحانه و تعالى په خپل مبارک کتاب کي ذکر کړی دی، غافله او ناخبره دي، الله عزوجل فرمايي:

[النساء: ۹]

ژباړه: خلکو ته ددې خبري په نظر کي نيولو سره وېره کول پکار دي چي که هغوی په خپله له ځانه وروسته بېوزلې اولادونه پرېږدي؛ نو د مرګ په وخت کي به د خپلو اولادونو لپاره څنګه ځورېدلي وي؛ نو بايد چي هغوی له خدايه وبېرېږئ او رښتيا وينا وکړي.

(سرچينه: سيرة عمربن عبد العزيز لإبن الجوزي: ۳۳۸)

د خلفاء راشدينو له پنځم خليفه څخه دي الله تعالى راضي سي او دی دي الله تعالى راضي کړي او الله تعالى دي د نوموړي او د نوموړي د زوی او د زړه د ټوټې چي عبدالملک دئ قبرونه منور وګرځوي او سلامتيا دي وي پر دوی دوو په هغې ورځ چي په رفيق اعلی کي سره يوځای کېږي او پر دوی دي سلامتيا وي په هغې ورځ چي د نېکانو او بهترينو خلکو څخه به راپورته کېږي.

**(انا لله و انا اليه راجعون)**



## د درمل جوړولو ...

کوي،چې د ناروغۍ د لرې کولو لپاره هېڅ ګټه رسولی نه شي.د درملو په جوړولو کې زموږ صنعت کاران له اوومو موادو کار اخلي دغه مواد د هیواد په دننه او یا له بهرنیو هیوادونو څخه ترلاسه کوي.د هوخست شرکت درمل د ډاډ وړ دي،چې د جوړولو پر مهال له کیفیت لرونکو توکو کار اخیستل کېږي.همداسې نور په لسهاوو د درمل جوړولو شرکتونه لرو.زموږ ګاونډی ایران د پرله پسې هلو ځلو په پایله کې پر دې توانېدلی،چې۹۹ سلنه د درمل جوړولو برخه کې پرځان بسیاینې ته ورسېږي.هغه درمل ،چې خپلو خلکو ته جوړوي کیفیت یې لوړ وي،خو هغه چې افغانستان ته راوړل کېږي د ځینو کیفیت یې ټیټ وي . دغه د درمل جوړولو شرکتونه دې دا په نظر کې ونیسي، کوم درمل،چې د کمرګ له لارې افغانستان ته راوړل کېږي د ستندرد اداري له لوري چک او د کیفیت د ټیټوالي پرمهال مستردېږي؛خوکوم درمل،چې له قاچاقي لارو افغانستان ته راوړل کېږي د هغو د مخنیوي لپاره ډېر ځواک ته اړتیا ده،چې د لارو په اوږدو کې ځای پرځای شي،چې هیواد ته د قاچاقي درملو له راوړلو څخه مخنیوی وکړای شي.د کندهار د درمل جوړولو فابریکې څخه مخکې په هرات ولایت کې هم د خصوصي سکتور له خوا د درمل جوړولو یوه فابریکه پرانیستل شوه. دغه فابریکه ښه درمل تولیدوي او هغه د هیوادوالو په واک کې په ارزانه او ډاډمنه توګه ورکوي.هغه مهال به موږ د غیر اصلي او قاچاقي درملو له تاوان څخه وژغورل شو،چې د درمل جوړولو نورې فابریکې جوړې کړو او د لوړ کیفیت لرونکي درمل په کې تولید شي.اوس موږ په هیواد کې داسې کورنۍ،چې ناروغ ونه لري لږ وینو.درملو ته ډېره اړتیا ده،خو د اصلي درملو او غیر اصلي درملو ترمنځ توپیر راوستل هم ستونزمن کار دی.هغه مهال به موږ وتوانېږو،چې د بهرنیو درملو له احتیاج څخه ځانونه خلاص کړو،چې د درمل جوړولو برخه کې لوړه پانګونه وشي لکه اوس ،چې په کندهار کې د درمل جوړولو فابریکه پرانیستل کېږي.زموږ په هیواد کې د ناروغانو شمېر د نورو وختونو په پرتله لوړ شوی دی.هغه مهال موږ ته پته لګېږي،چې روغتونونو ته ولاړ شو او له نږدې ناروغان او د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو څرنګوالی ووینو.له ټپل شویو جګړو وړاندې د هوخست د درمل جوړولو فابریکې په لوړ کیفیت درمل جوړول او د هیوادوالو په واکې یې ورکول.له دې لارې زموږ ناروغانو ښه درمل ترلاسه کول او وروسته له یوې مودې د دوی ناروغي هم ورسره ښه کېدله.هغو متخصصینو،چې په دغې فابریکه کې دنده ترلاسه کوله په دې لټه کې وو،چې هیوادوالو ته ښه درمل جوړکړي ،چې دکارونې پرمهال ناروغان له روغتیا برخمن شي.زموږ د درمل جوړولو شرکتونه ایماني،هیوانۍ او وجداني دنده لري،چې د خپلو درملو په جوړولو کې له کیفیت لرونکو موادو ګټه پورته کړي.په دې کار سره د دغو شرکتونو نوم او شهرت لا پسې لوړېږي. زموږ جګړه ځپلي،کړېدلي او ربړېدلي هیوادوال په ډېرو مشکلاتو پیسې ګټي او له ناروغۍ د ښه کېدو لپاره درمل اخلي،داسې کسان هم لرو،چې د درملو د پېرلو وس نه لري.په هر ولایت کې،چې د درمل جوړولو او نورو صنعتي توکو فابریکې جوړېږي خلکو ته د خوښۍ احساس پیدا کېږي.په کندهار کې د درمل جوړولو فابریکه پرانیستل شوه زموږ خلک له دغه نیک اقدام څخه خوښ دي.د درملو سکتور کې باید ډېره پانګونه وشي؛ځکه زموږ په هیواد کې د کمزوري اقتصاد له امله پر ناروغیو د اخته کېدو کچه هم لوړه شوې ده.د درملو په جوړولو کې د دولتي او خصوصي سکتور د لوړو زده کړو د پوهنتونونو ظرفیتونه هم باید لوړ شي؛ځکه پخوانۍ د درمل جوړولو سیستم زموږ د اوسنیو غوښتنو ځواب ویونکی نه دی.اوس د درملو جوړولو تکنالوژۍ د تېرو کلونو په پرتله ډېرپرمختګ کړی دی. ډېرې پر مختللې فابریکې د درمل جوړولو چارې د متخصصینو او مسلکي کارګرانو په واسطه پرمخ بیایي ،چې ښه پایله یې له ځان سره لرلې ده.د دغو چارو په ترسره کولو سره به د بهرنیو هیوادونو له احتیاج څخه خلاص او پرځان به بسیا شو.

## هیچا ته د زورواکۍ...

اوس یې هم د تاریخ او آخرت پېټې ډېر درانده دی، نور دې زموږ مؤمن ملت ته د بهرنیو د خوشحالولو لپاره د بدو ورځو هیلې نه کوي او نه موږ اجازه ورکوو ،چې هغه ترخې خاطرې بیا راژوندۍ شي.)) خلیفه سراج الدین حقاني د غونډې ګډونوالو ته په خطاب کې وویل، چې د وطن د آبادۍ او د نظام د استحکام په خاطر را سره مشورې او وړاندیزونه شریک کړئ او زه به یې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله اړوند مسایل تر هغه ور ورسوم.نوموړي زیاته کړه، چې هیچا ته د زورواکۍ اجازه نه ور کوو او نه باید حاکم له واکه غلطه استفاده وکړي. هېره دې نه وي، چې خلیفه سراج الدین حقاني ورمه ورځ هم فاریاب ته د سفر په ترڅ کې د دغه ولایت له سیمه ییزو چارواکو، دیني عالمانو، قومي مشرانو او د خلکو له استازو سره لیدلي وو.

## په تېره میاشت کې...

د کنټرول لپاره هېڅ ډول څارنه نشته او کومه لایحه ،چې د سرعت د کنټرول لپاره ټاکل شوې وه، نه ده عملي شوې)) بل موټرچلوونکی دیدار خان هم ورته شکایت لري او وایي:((لارې ډېرې خرابې دي او بله دا چې زیاتره ټکرونه د شپې له خوا کېږي ځکه له موټر چلوونکو څخه پوښتنه نه کېږي ،چې ولې یې اضافه څراغونه لګولي. په لارو کې نه ترافیکي نښې شته او نه هم کنټرول. لارې داسې شوي لکه پخواني خامه سړکونه.))احمد سیر او شېرزاد احمدي بیا د ترافیکي پېښو د ډېرېدو پړه پر موټر چلوونکو ور اچوي او وایي:((د ترافیکي پېښو یو دلیل دا دی چې موټر چلوونکي بې خوبي کوي او کله چې حرکت کوي ډېر وخت بې خوبه وي او بې احتیاطي هم کوي او په زیات سرعت کې مزل کوي.))((موټر چلوونکي بې احتیاطي کوي او زیاتره وخت د سفر پر مهال نشه یي توکي کاروي. دوی باید بې احتیاطي ونه کړي او له زیات سرعت څخه ډډه وکړي.))د یادونې وړ ده چې په دې وروستیو کې ترافیکي پېښې زیاتې شوې چې په کې ګڼ شمېر خلکو ته ځاني او مالي زیانونه اوښتي دي.هیوادوال له مسئولینو غواړي ،چې د لویو لارو په رغولو او دنورو ستونزو د حل لپاره جدي اقدامات وکړي او له موټر چلوونکو هم غوښتنه کوي چې د سفر پر مهال خپل سرعت کم او احتیاط ډېر کړي. احمدي

## برنامه جهانی غذا ...

تن آنان مشغول کارهای شاقه می باشند در اعلامیه جهانی سال ۱۹۵۹ حقوق کودک سازمان ملل متحد آمده است که کودکان باید در برابر هرگونه غفلت حمایت شوند و پیش از رسیدن به سن مناسب نباید اجازه استخدام آنان در کارهایی داده شود که به صحت جسمی و روانی و یا آموزش آنان آسیب میرسد.

## از فروش مواشی در...

برای فروش مواشی میباشند.عبدالله که خود را باشنده ناحیه ششم شهرکابل معرفی میکند درمورد میگوید: ((در نبود محل مشخص، امراض مختلف پیدا میشود، بهخصوص در این روزها که هوا هم درحال گرم شدن است.))گل حیدر، یکتن دیگر از باشندگان کابل نیز خواهان مشخص شدن محل مناسبی برای فروش مواشی در ایام عید است.((شاروالی کابل باید یک محل مشخص را تعیین کند، زیرا فضای شهر آلوده وخراب میشود.)) گفتنی است که سال قبل نیز شاروالی کابل یک تعداد محلاتی را به هدف فروش مواشی در ایام عید مشخص کرده بود، اما به گفتهٔ باشندگان این شهر، یک تعدا افراد برخلاف دستور شاروالی، مواشی شان را درکنار سرکها و اماکن عمومی بهفروش میرسانند.

## د علومو اکاډمي ...

د پرمختګ او پراختیا لپاره د دې بنسټ د فعالیتونو قدرداني وکړه.نوموړي زیاته کړه: اکاډمیک بنسټونه د هیواد په پراختیا او انکشاف کې مهم رول لري، نو په همدې اساس علمي بنسټونه او په ځانګړې ډول د علومو اکاډمي مکلفه ده، چې په دې برخه کې خپله توله هڅه وکړي.مولوي عبدالسلام حنفي وویل:چې اسلامي امارت ژمن دی چې د ټولو بنسټونو ارزونه وکړی، ستونزې یې حل کړي او مسئولین تر خپلې وسې هڅه کوي د یادو بنسټونو اړتیاوې تشخیص او ورته رسېدنه وکړي.

## په هلمند کې ۱۰۲ ...

بیا رغول شوي او تر څنګ یې ۳۴ ښوونځیو ته لمریز برښنایي سیستم فعال شوی دی.دا په داسې حال کې ده، چې د هلمند نهرسراج ولسوالۍ اوسېدونکي په دې ولسوالۍ کې د ښوونځیو له نشتوالي او یجاړېدو شکایت کوي او دې برخه کې له اسلامي امارت او د پوهنې ریاست څخه د جدي پاملرنې غوښتنه کوي.ورته مهال د دغه ولایت د پوهنې رئیس مولوي محمد عوض انصاري د یادې ولسوالۍ د اوسېدونکو ستونزې پر ځای بولي او وایي، چې ددغو ۱۰۲ ښوونځیو د بیارغولو برخه کې به یادې ولسوالۍ ته پاملرنه وشي.

## په فراه کې د غنمو...

د غنمو د کښت له منځه تللو مخنیوی وشو او په دې توګه یې ښه پایله لاسته راغله.د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست د کرنیزې احصایې آمر مولوي نورالدین ((انس)) همدارنګه زیاته کړه، چې د فراه ولایت د مرکز په ګډون د ټولو ولسوالیو بزګرانو ته د کوکنارو د کښت په بدیل کې د کرنې ریاست په همکارۍ د همکارو مؤسسو له لوري پر (۲۳۵۰۰) بزګرانو باندې (۱۱۸۰) ټنه غنم، په یاده کچه سپینه او توره کیمیاوي سره هم ویشله شوه.ښاغلي ((انس)) همدارنګه زیاته کړه، چې د فراه ولایت بزګران د اوبو له کمښت سره مخ دي، د ده په وینا، که وضعیت پر همدې توګه مخ ته ولاړ شي، نو فراهي وګړي او بزګران به له لوی ناورین سره مخ شي ، چې بیا به په هېڅ ډول جبران نشي، ده همدارنګه وویل؛ چې د فراهي ولس غوښتنه د بخش اباد بند رغول دي.بله خوا د (میر حمزه او حبیب الله) په نومونو دوه تنه بزګران بیا په سیمه کې د افغانستان د اسلامي امارت د سیمه ییزو مسئولینو د ښه چلند، د ډاډمن او خوندي امنیت د ستاینې ترڅنګ زیاته کړه، چې موږ د پخوا په پرتله اوس په ډېره ډاډه توګه کار او له خپلې کورنۍ سره یو ځای په ارامه ژوند کوو، ولې دوی له یوې خوا د کېمیاوي سرې له لوړې او د غنمو له ټیټې بیې او له بلې خوا له وروستیو وچکالیو څخه سر ټکوي او وایې؛ چې د کېمیاوي سرې لوړالي او د غنمو ټیټوالي له ګڼو مالي ستونزو سره مخ کړي یو، دوی زیاتوي: که چېرته وچکالې همداسې دوام ومومي، ځا ګانې څه چې انسانان به هم له غټ زیان سره لاس او ګریوان شي.دوی زیاتوي او وایې؛ چې وروستیو وچکالیو مو نه یوازې د ژمي او پسرلي کښتونو ته زیان اړولي، بلکې د دوبي د موسم کښتونه هم نشو کرلای.د محمد مدیر په نامه یو بل بزګر بیا وایې؛ چې موږ د اسلامي امارت د عالیقدر امیر المؤمنین ((حفظه الله)) له لوري د کوکنارو او نشه یې توکو د بندیز صادر شوي فرمان ته په ورین تندي هرکلي ووایه او د تل لپاره مو ورسره مخه ښه وکړه، ولې د افغانستان د اسلامي امارت له مشرتابه او نورو سیمه ییزو مسئولینو څخه غوښتنه کوو، ترڅو د یاد کښت په بدیل کې د بل کښت، کېمیاوي سرې، پراختیایي پروژو او نورو اسانتیاو زمینه راته برابره کړي. یادو بزګرانو همدارنګه په سیمه کې له ملي سوداګرو څخه د هیواد، ټولنې او همدارنګه د ازګارو کسانو د هوساینې او له بهرنیو هېوادونو د راګرځونې په موخه د پانګونې غوښتنه هم وکړه.

## په بغلان کې ۳۷...

او مرکزي بغلان ولسوالیو او پلخمري ولسوالیو کې ۳۷ لرغونې او تاریخي سیمې کشف او موندل شوې.د لرغون پوهنې ریاست مسلکي غړي ګل احمد عظیمي ،چې بغلان ته د لرغونو سیمو د موندلو او کشف په موخه تللی وایي، چې موندل شوې لرغونې او تاریخي سیمې په کوشاني او اسلامي دورو پورې اړه لري.عظیمي زیاته کړه، چې په موندل شویو لرغونو او تاریخي سیمو کې ډېرې تپې یې د کوشانیانو په دورې پورې او یو شمېر موندل شوي کاروان سرایونه په اسلامي دورې پورې تړاو لري.په ورته مهال بغلان ولایت کې د لرغونو او تاریخي سیمو د ساتنې د (( ۰۱۲ قطعې )) قوماندان خلیل انوري وویل، چې په دې ولایت کې به هېچاته اجازه ور نه کړي چې په خپلسري ډول کیندنې ترسره او یاهم د فرهنګي سیمو د تخریب هڅه وکړي.د یادولو وړ ده چې نږدې یوه اوونۍ وړاندې هم د لرغون پوهنې ریاست مسلکي غړو او د بغلان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د کلتور برخې مسئولینو د دې ولایت په برکې ولسوالۍ کې ۱۶ لرغونې سیمې کشف او سروې کړې وې.

Hewad Daily

سه شنبه د ذوالقعدة الحرام ۲۴ مه ۱٤٤٤ ق کال د ۱٤۰۲ ل کال د غبرګولې ۲۳ مه د 2023 م کال دجون ۱۳ مه

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۱۰۲۵۲٦۳ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب: سایت www:dailies.gov.af/hewad
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰٦۹

## مولوي عبدالسلام حنفي:

# د علومو اکاډمي دې د هیواد د پرمختګ لپاره هڅې زیاتې کړي

د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ورمه ورځ د افغانستان د علومو اکاډمۍ تخنیکي مرستیال سره په کتنه کې وویل، چې اکاډمیک بنسټونه د هیواد په پراختیا او انکشاف کې مهم رول لري.ارګ په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د علومو اکاډمۍ تخنیکي مرستیال شیخ امیر جان ثاقب خبرې وکړې او د یادې ادارې د فعالیتونو، لاسته راوړنو او برنامو په اړه یې د ریاست الوزراء اداري معاونیت ته معلومات ورکړل.شیخ ثاقب علومو اکاډمي د هیواد له مهمو علمي مرکزونو څخه وبلله، چې د نورو علمي بنسټونو ترڅنګ په هیواد کې د علومو د پراختیا او پرمختګ لپاره فعالیت کوي، ترڅو د اکاډمیکو پروژو ریسرچ، تامین او انکشاف ته ځانګړې پاملرنه وکړي.ورته مهال مولوي عبدالسلام حنفي د افغانستان د علومو اکاډمۍ له مسئولینو سره پر کتنې د خوښۍ ترڅنګ په هیواد کې په علمي او اکاډمیکو برخو کې...۵مخ



## په هلمند کې ۱۰۲ ښوونځي بیا رغول کېږي

د هلمند د پوهنې ریاست مسئولین وایي، چې روان کال کې به د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کې ۱۰۲ ښوونځي بیا ورغوي.د دغه ولایت د پوهنې رئیس مولوي محمد عوض انصاري له باختر آژانس سره په خبرو کې ویلي، چې د تېرو ۶ میاشتو په موده کې په دغه ولایت کې ۱۷ ښوونځي بیا رغول شوي، ۵۷ اوسمهال تر کار لاندې دي او په پلان کې دي، چې په روان کال کې ۱۰۲ ښوونځي نور هم بیا ورغول شي.نوموړي زیاته کړه، چې د اسلامي امارت په راتګ سره تر دې مهاله له مرستندویو بنسټونو سره په همغږۍ ۱۰۹ ښوونځي

## بهرني سیلانیان په بلخ کې امنیتي وضعیت د ډاډ وړ بولي

یو شمېر ایټالوي سیلانیان چې بلخ ولایت ته د تاریخي ابداتو د لیدو په موخه راغلي، له شته امنیت چې افغانستان ته د سفر پر مهال یې د دغه هیواد د خلکو له کلتور او دودونو سره مینه پیدا کړې ده. په



څخه خوښي څرګندوي. دغه سیلانیان وایي، چې افغانستان کې وضعیت د هغه څه برعکس دي ،چې د رسنیو له لارې خپرېږي. د ۹ بهرنیو سیلانیانو یاده ډله وایي، ورته وخت کې د بلخ د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست چارواکي وایي، چې په دې وروستیو کې دغه ولایت ته د کورنیو او بهرنیو سیلانیانو ورتګ شمېره زیاته شوې ده.

# د اروابښاد امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ((رحمه الله)) مقبرې ته غځېدلی سړک جوړ شو

د زابل ځایي مسئولین وایي، چې په دغه ولایت کې د اروابښاد امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد مقبرې ته غځېدلي ۸ کیلو متره سړک جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.د زابل ځایي مسئولینو د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته ویلي، چې په دغه ولایت کې د اروابښاد امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله مقبرې ته غځېدلی سړک د یوه ملي سوداګر په شخصي لګښت د ۸ کیلو مترو په اوږدوالي د ۶ میاشتو په موده کې جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.په ورته وخت کې د زابل ولایت مرستیال له ملي سوداګرو وغوښتل، چې د دې ولایت د بیارغونې په برخه کې ورسره همکاري وکړي. نوموړي زیاته کړه، زابل د بیارغونې له اړخه یو وروسته پاتې ولایت دی او په تېرو شلو کلونو کې ورته د بیا رغونې برخه کې هېڅ کار نه دی ترسره شوي.



## حضرت نجیب الله مجددي:

# د هیواد د پرمختګ لپاره د اسلامي امارت د پروګرامونو ملاتړ کوو

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور د حضرت صبغت الله مجددي له مشر زوی حضرت نجیب الله مجددي سره وکتل. دغه وزارت پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې په دې کتنه کې نجیب الله مجددي د اسلامي امارت د تېرو دوو کلونو د پرمختګونو او لاسته راوړنو لکه د ټېر حکومت د سیاسیونو راستنېدل، د اداري فساد له منځه وړل، سرتاسري امنیت، او د پانګونې پر فرصتونو باندې خوښي وښوده او له اسلامي امارت سره یې د هیواد د پرمختګ لپاره خپل ملاتړ او همکاري اعلان کړه.نوموړي دغه راز خپلې ستونزې هم له شیخ شهاب الدین دلاور سره شریکې کړې او د حل غوښتنه یې وکړه. ورته مهال د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست هم په خپلو خبرو کې د افغانانو ترمنځ پر لا زیات اتحاد او یووالي ټینګار وکړ او ورسره یې د ستونزو په هوارې کې د همکارۍ ژمنه وکړه.



# په فراه کې د غنمو حاصلات ۲۳ سلنه زیات شوي

فراه ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وایي؛ چې په دې ولایت کې د تیر کال په پرتله سږ کال د غنمو په حاصلاتو کې (۲۳) سلنه لوړوالي راغلی دی.د یاد ریاست د کرنیزې احصایې آمر مولوي نورالدین ((انس))وایي؛ چې په فراه ولایت کې د تیر کال په پرتله سږ کال د غنمو په حاصلاتو کې (۲۳) سلنه لوړوالي راغلي دی، چې لامل یې د غنمو د کښت زیاتوالی او د کوکنارو د کښت له منځه وړل دي، ده زیاته کړه، چې تېر کال د غنمو د کښت ساحه (۶۱۶۰۰) هکتاره ځمکه وه، خو سږ کال یې ساحه (۸۰۰۰۰) هکتاره ځمکه وه، چې د تیر کال حاصلات ټولټال (۱۲۳۲۰۰) ټنه او د سږ کال حاصلات (۲۰۰۰۰۰) ټنه اټکل شوي دي.ده همدارنګه د یخ تیرې سړې څپې ته په کتو سره زیاته کړه، چې د یخ سړې څپې د غنمو پر کښت شاوخوا (۶۰) سلنه ناوړه اغیزه وکړه، خو د کرنې ریاست د مسلکي



او فني ټیم له لوري د دوامداره لاربښوونو، اوبو او کېمیاوي سرو پواسطه ۵مخ

## نورستان کې ۵ شنې خونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د نورستان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت پر مرکز پارون سربېره، کامدېش، وایګل او واما ولسوالیو کې ۵ شنې خونې جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د دغه ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئیس وایي، چې دغه شنې خونې د خوړو د نړیوال سازمان په مالي مرسته د نږدې ۳۵ زره امریکایي ډالرو په لګښت جوړې شوې، چې په کې تازه سبزۍ تولیدېږي. ورته مهال د یادو سیمو یو شمېر اوسېدونکي د یادو خونو په جوړېدو خوښ دي او وایي، چې له دې وړاندې به د یادو سیمو خلک د سبزیو له کمښت سره مخامخ کېدل او هم به یې وخت نا وخت بیې لوړېدلې.

# د فلسطیني ماشومانو او تنکیو ځوانانو د شهادت ټکان ورکوونکې احصایې په ډاګه شوې

صهیونیستي رسنیو د فلسطیني ماشومانو او تنکیو ځوانانو د شهادت ټکان ورکوونکې احصایې خپرې کړې دی او ویلي یې دي چې د روان کال له پیله تر اوسه ۲۸ فلسطیني ماشومان او تنکي ځوانان د صهیونیستي پوځیانو له خوا شهیدان شوي دي.د دغو ورځپاڼو په وینا؛ دغه فلسطیني ماشومان او تنکي ځوانان د صهیونیستي نیواکګرو پوځیانو په جګړو کې شهیدان شول.په ورته وخت کې؛ د فارس خلیج د همکارۍ شورا له نړیوالې ټولنې وغوښتل، چې په اشغال شوي بیت المقدس کې د فلسطینیانو پرضد د صهیونیستانو



حملې بندې کړي. د فلسطین د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د شهیدانو شمېر او د فارس خلیج د همکارۍ شورا له خوا د فلسطینیانو په خلاف د صهیونیستانو د حملو د بندولو غوښتنه په داسې حال کې شوې چې د دغه رژیم د پوځ په څنګ کې صهیونیستانو نیواکګرې حملې زیاتې کړې دي.

## د یونان ساحلي ځواکونو افغان کډوال ژغورلي

یوناني چارواکو ورمه ورځ د دې هیواد د ساحلي ځواکونو لهخوا د کډوالو د یوې کښتۍ د ژغورلو خبر ورکړ ،چې ډېر افغانان هم پهکې سپاره وو. چارواکو ویلي، چې ۹۰ تنه غیرقانوني کډوال په دې کښتۍ کې ،چې د کیترا ټاپو ته نږدې سمندري څپو کې بند پاتې وو، ژغورل شوي ،چې ۳۷ یې ماشومان یا تنکي ځوانان دي. د افغانانو ترڅنګ نور کسان د بنګله‌دېش، پاکستان، عراق او مصر اتباع ښودل شوي دي. د ملګرو ملتونو په وینا، تېر کال د دغې ژغورل شوې کښتۍ په ځای کې لږ تر لږه ۳۲۶ کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړي و.

## د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت:

# د هوټلونو مسئولین دې د واده په مراسمو کې د موسیقۍ له غږولو ډډه وکړي

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت وایي، چې د پلازمېنې کابل ښار د ښهري ریاست محتسبینو د هوټلونو له مسئولینو سره په یوه غونډه کې د دې اداري له مسئولینو غوښتي چې د واده او نورو خوښیو په مراسمو کې د موسیقۍ له غږولو ډډه وکړي.دغه وزارت په یوه خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، چې د دغه وزارت چارواکو په دې غونډه کې ټینګار کړی، چې د ودونو او نورو خوښیو د مراسمو پر مهال دې د موسیقۍ او نورو هغو شیانو له غږولو ډډه وکړي ،چې له اسلامي او شرعي احکامو سره په ټکر کې وي.په دې غونډه کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د هوټلونو له مسئولینو وغوښتل ،چې د دغه وزارت له مقرراتو سره سم عمل وکړي او پنځه وخته لمونځ په جماعت ادا کړي.

# په بغلان کې ۳۷ لرغوني سیمې کشف شوې

د بغلان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولین وایي، چې د هیواد د لرغونپوهنې ریاست د مسلکي ټیم له خوا چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په لاربښوونه بغلان ته لېږل شوی دی ۳۷ لرغوني سیمې یې د بغلان په شپږو ولسوالیو کې کشف کړې دي.د بغلان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د ګرځندوي آمر مولوي عزت میرحقاني د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته ویلي، چې د لرغون پوهنې ریاست د مسلکي کارمندانو له لوري د بغلان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په همکارۍ د دغه ولایت په خوست، ګزرګاه نور، فرنګ، نهرین،... ۵مخ



# له طبیعت سره ملګري اوسئ.